مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۱/۰۸/۰۵

# جنګ،

## د افغانستان د روانو اوبو لپاره دی

جنګ د مخدره موادو مافیا پرمخ وړي او لګښت یې جرمي اقتصاد ورکوي.

په پينځو زرو بنديانو کې تر شلو اوښتي د مخدره موادو نړيوال سلاطين هم خوشي کړای شول. د دوی خوشي کېدل د قطر د هوکړې يوه برخه او شرط و او دې شرط ثابته کړه، چې جګړه د مافيا جګړه ده.

جنګ د افغانستان د کانونو او سرچينو د لوټ تالان لپاره روان دی.
جنګ د خلکو له کورنو څخه د هغې شتمنۍ د چور لپاره دی، چې په تېره شل کلنه اقتصادي وده کې راټوله شوې ده.

جنګ پنجاب ته د ملي پوځ د وسايلو د رسولو دی.

جنګ د افغانستان د هغو تاريخي آثارو د لوټ او ويجاړۍ لپاره دی، چې په تېرو دوو لسيزو کې راټول شوي دي.

جنګ منځنۍ اسيا ته د پنجاب د وړيا ترانزيتي لارې د ورخپلولو دی، چې د افغانستان پزه پرې کړي او ځان له چتراله مخامخ تاجيکستان ته ورسوي.

جنګ د ترانزيتي بندرونو د عوايدو د لوټلو لپاره روان دی.

جنګ په امريکا او نورو هېوادونو کې د وسلو د لويو کمپنيو د توليداتو د خرڅلاو لپاره دوام مومي. که په افغانستان کې جګړه نه وي، د نړۍ د وسلو د سترو کمپنيو کارتوس و توپک چېرته وپلورل شي؟ د غرڅو د ښکار لپاره؟

جنګ د يوه ملت د جاهل ساتلو لپاره روان دی، چې سبا ته په نړيوالو ښځرو کې هلته و دلته وځنګول شي او ميليونونه تنه يې د وړيا / ارزانه کارګرو په توګه په پرديو مزدوريو کې خوړين شي.

جنګ د چين و امريکا د اقتصادي سياليو لپاره لمبې وهي.

او بالاخره جنګ د جنسي وړيو او ورسترګيو د ځان مرولو لپاره دی، چې تبليغ ورته کيږي، د افغانستان جګړې ته ولاړ شئ او له ځانونو سره له امريکايانو پاتې ډالر او له کورونو څخه سرې و سپينې نجونې راولئ!

اوس نو په دې منځ کې تاسو ووايئ، چې د (اسلام) ځای چېرته دی؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ